# د رحمان باباپه شاعرۍ کښې يو ټپه ييز غږ

## A Phoneme of Tappa in the poetry of Rahman Baba

1Dr. Yousaf Jazab

## ABSTRACT

*Speaking of popularity, perhaps Rahman Baba is lucky enough to have no rival at all. In this realm, even the great Khushal Khan Khattak, his contemporary can't match him. A question arises as what is the cause of it? So, without any hesitation, one can conclude that because Rahman Baba had got the top secrets of Pashtoowali. In the Mughal era, where people were oscillating politically and religiously between the two extremes, his feet were able enough to glue to the slippery ground by gripping hold of the folkloric values of Pashtoon code of conduct.*

*Of course, Rahman Baba's contemporary Khushal Khan Khattak was more vigilant to Pashtoonwali and its values as he is the perfect emblem of Pashtoonwali but Abdul Rahman Baba has paid attention, more or less, to all these dimensions and manifestations. Yet, in the realm of style Rahamn Baba completely defeats his rival poet. His thoughts are sublime but his matchless style has conspired to make him a ruler of the kingdom of Pashto poetry. This paper uncovers some characteristics of the matchless style of Rahman Baba that borrows a lot from folk wisdom and especially from the most popular genre of folk poetry, Tappa.*

***Key words***: *Rahman Baba, folk poetry, Tappa, style.*

Pukhtunkhwa Journal

1 Associate Professor, GPDC, Bannue

### د رحمان بابا د مقبولیت اسباب: اولسي ادبي پېرایه

د رحمان بابا د مقبولیت او شهرت پرعلتونو تقریباً د ټولو پوهانو او ادیبانو رایي یوه ده دلته د منلي او وتلي پلټونکي او څېړنکار ښاغلي دوست محمد خان کامل مومند مرحوم رایې یو ځل بیا د راخستلو جرات کوو دوي په دې حقله لیکي:

1. "د رحمان بابا په کلام کښې ډېرې لفظي او معنوي خوبۍ دي خو د مقبولیت سبب یې زیات تر د ژبې سلاست، د جذباتو صداقت، بې پناه سوز و ساز او انتهایي جذب او درد ګرځېدلی دي علاوه له دې نه د صوفیاوو احترام او د عام و خاص د رحمان بابا په حقله د بزرګی خیال هم دې مقبولیت کښې اضافه کړې ده" i

د کامل مومند صاحب پاس ورکړل شوی اقتباس د رحمان بابا د شاعرانه کلام دوه خوبۍ پر ګوته کوي چې یو د دوي آیډیالوجي (فکر) رانښيي او بل د دوي اسلوب (فن) دی دیني او مذهبي مینه او تصوفي افکار او مسلمه اخلاقیات هم د دوي د دې آیډیالوجي نه راټوکېدلي ګلان دي پر بل لوري د دوي اسلوب چې د دوي فکر سره پر متوازنه توګه غاړه غاړې دی هاغه ټولي خوبی لري چې بره کامل مومند صاحب ذکر کړې دي، ډاکټر راج ولي شاه خټک (الله پاک دې یې وبخښي!) چې زۀ یې تر څه حده د کامل مومند صاحب ادبي جانشین بولم د رحمان بابا په اسلوب کښې یوه نکته داسي پر ګوته کوي چې هغه مونږ خپل منزل ته نیژدې کوي:

**"یوه لویه خوبي یې د ژبې د کمال ده ډېر علمي اصطلاحات یې په خوږه ولې ساده او روانه ژبه کښې بیان کړي دي د رحمان بابا انداز خوږ، شیرین، ساده او زړۀ راښکونکی دی ولې د فکر جرړې یې ډېرې ژورې هم دي باریک، نازک او لطیف خیال یې هم په داسي انداز کښې بیان کړی دی چې اولسي پوهي ته هیڅ ګراني لري دا شاید ځکه چې رحمان بابا تر ډېره حده د اولس ژبه پکارولې ده" ii**

زۀ به دلته د دې ویلو جسارت وکړم چې لا څو یې د اولس ژبه پکارولې ده او لا یې د ژبې په حواله هغه اپروچ استعمال کړی دی چې عوام یې لري او هغه اپروچ تشریحي (descriptive) دی یعني دوي په خپله شاعری کښې ښۀ په خلاص مټ د عربی او د پارسی ژبي لغتونه راوړي دي او لکه د ژبي د صفاییی د عالمانو یې د ژبې د سوچه والي (purism) هیڅ خیال نۀ دی ساتلی2 خو دا د بابا خپل اولس ته د ورنیژدې کېدو یوه زاویه ده چې د دوي شاعرانه تعامل په دې ګواهي ورکوي په دې اره د دوي د سوچ یوه بله زاویه هم ده چې چېرته دوي د خپله شاعرانه لهجه د ډکشن د تنګي دایرې نه وباسي او په یو ستر تناظر کښې یې خپلې اولسي ژبې ته ورنیژدې کوي او خپل ارزښتناک اسلوب ترې رغوي3 په دغه رغاونه کښې د ژبې روزمره و محاوره او متل هم دي، د ژبې پارولې ښه هم ده، د عوامي یا اولسي ادب نه اخذ و استفاده هم ده او په تېره تېره یو اولسي سوچ هم دی چې رحمان بابا دا هر څه په نظر کښې ساتلي دي او خپل شعري اسلوب یې ترې کشید کړی دی او چېرته هله یې دا دعوٰی کړې ده چې:

**چې دا نور شاعران کاندي هغه نۀ کا**
**رحمان کړی نوی اجتهاد دی** iii

### د رحمان بابا د اولسي ادبي پېرایي خط و خال

زما تر فهمه د رحمان بابا د شعري ژبې مهمي نکتي دا دي:

اول: د رحمان بابا په شعري ژبه کښې اولسي استدلال

دویم: د رحمان بابا په شعري ژبه کښې د عوامي یا اولسي ادب نه اخذ و استفاده

**دریم:** د رحمان بابا په شعري ژبه کښې **د** عوامي یا اولسي ژبې نه اخذ و استفاده

**څلورم:** د رحمان بابا په شعري ژبه کښې **یوه اولسي ټپه ییزه غږیزه واحده (phoneme)**

خو دلته مونږ لۀ اولنیو دریوو تېرېږو او د څلورمي نکتي ذکر په تفصیل سره کوو

## د رحمان باباپه شاعری کښې یو ټپه ییز غږ

د پښتو په اولسي شاعری کښې د ټپې خاتمه زیاتره په لاندیني، واز او په خولۀ کښې مخکښې ادا کېدونکي خپلواکه غږ /ه/ کېږي چې دا د پښتو په خپلواکه غږونو کښې د ټولو نه چیګ ادا کېدونکی صوت (lower, front, open vowel /a/) دی شاید ځکه پښتني اولس د دې صنف اختتام دپاره غوره کړی وي چې دلته سندرغاړي اواز چیګوي، د ټپې په فني جوړښت کښې د دویمي مصرعي "په آخر کښې اورمرو [/م/ + /ه/ یا /ن/ او /ه/ راځي"iv ولې زۀ دلته د دې اصول په پنځو پوریو کښې وضاحت کول غواړم چې په لاندې ډول دي ځکه چې د /م/ او /ن/ راتلل د پښتو د فونالوجي مطابق اړون بدلون مومي:

اول: د ټپې دویمه مصرعه به په هرحال کښې په /ه/ ختمېږي او دا آفاقي خبره ده

دویم: که د ټپي اخرنی لفظ تذکیري اسمي ښه لري او د جمع حالت یې د /-ونه/ مانیزه واحده (morpheme) اخلي لکه لاس ـــ لاسونه؛ ګرېوان ـــ ګرېوانونه او داسي نور نو د ټپې د فني جوړښت اولنی شرط پخپله پوره کېږي

---

**2** باید په دې حواله د رحمان بابا د لساني مطالعي یو پراجېکټ منظور شي او کار پرې وشي –

3 **او زمونږ دا اوسنی لیک هم د دې سره تعلق لري –**

درېيم: که د ټپې اخرنی لفظ تانيثي اسمي بڼه لري او په /-نه/ ختمېږي لکه مينه، وينه او داسې نور نو د ټپې د فني جوړښت اولنی شرط دلته هم پخپله پوره کېږي

څلورم:  که د ټپې اخرنی لفظ فعلي بڼه لري او په بېواکه غږ /-م/ اختتام مومي چې د کمزوري اتصالي ضمير نخښه ده نو دا ټکی يواځې /-ه/ اخلي لکه د خورم نه ـــ خورمه؛ ژاړم نه ـــ ژاړمه او داسې نور

پنځم: که د ټپې اخرنی لفظ فعلي بڼه لري او په خپلواکه غږ /-ي/ اختتام مومي نو د پښتو د غږيز نظام د اصولو ترمخه به د ياد شوي غږ نه پسه اول تلفظي معاون (gliding) /ن/ راځي او بيا /ه/ لکه راځي + ن + ه = راځينه –

د بره ذکر شوي مانيز صوت وجود که يو طرفته د دې اولسي صنف ـــ ټپې قدامت په ګوته کوي نو پر بل لوري د دې آواز شته والی په اولسي او عوامي وينه او رګونو کښې ثابتوي ځکه چې په يو ادبي صنف کښې مانيز آواز/آوازونه يا قواعدي کليه/کليې په خلا کښې خو رغاونه نۀ مومي بلکې دا لساني دلالتونه او شواهد د اولسي او عوامي ژبې خواږۀ ثابتوي او دارنګ د ژبې روايت ته يو دوام وربخښي –

اوس يوه پوښتنه دا کېدلاي شي بره ذکر شوی مانيز غږ (د څلورمې پوړۍ) اوس زموږ د ژبې برخه ده که نۀ؟ نو د دې ځواب زما د معلوماتو تر مخه په نفي کښې ده د پښتنو يوۀ ګړدود کښې هم دا غږ په لازمي توګه پاتې نۀ دی او که شته هم دی نو د ازادانه تغّير (free variation) په حالت کښې دی البته د پنځمې پوړۍ غږ اوس ببخي لۀ مېنځه تللی دی، په هر حال زموږ اولسي صنف ټپې دا غږ خوندي کړی  دی ګني د عوامي ادب نه د ژبې په تاريخي بڼې استشهاد نشي کېدلاي ځکه چې دا ژبه سينه په سينه د يونسل نه بل نسل ته انتقال مومي او ژبه چونکې لکه د يو ژوندي سري هره ګړۍ تغَير و تبدل مومي او په خپل وجود کښې دننه د ارتقاء پړاوونه ترسره کوي نو عجيبه دا نۀ ده چې د اولسي ادب ژبې پخوانۍ نخښې نۀ دي خوندي کړې بلکې عجيبه دا ده چې د اولسي ادب دا نخښې ولې او څنګه ساتلې دي؟ نو دا خبره چې "داسې ډېرې نارې او سندرې اوس هم ژوندۍ دي چې د پښتو ژبې او اولسي ادب د قدامت او لرغونتوب تعيّن پرې کېداي شي"[v] څه خو د تامل وړ ده چې په ژبنيزه حواله دا ممکنه نۀ ده، اوس نو د رحمان  بابا په شاعرۍ کښې د دې ټپه ييز غږ باقيات شته؟ نو په دې وروسته خبره کوو اول د پير روښان د مکتب په شاعرانو کښې د دې غږ سرۀ ګورو:

د رحمان بابا نه مخکښې په پښتو شاعرۍ کښې د روښاني مکتب[4] په شاعرانو کښې مُلا ارزاني خوېشکي په يو نظم "در بيان بادشاه و رعيت" کښې لاندينۍ مصرعه درې ځله راوړل شوې ده چې د /ازاروي/ د فعل په اخرکښې دغه صوت خوندي شوی دی:

**چـــــــې رعيـــــــــت ازاروينـــــــــه**[vi]

او بيا د مرزا خان انصاري په دغه لاندينيو شعرونو کښې همدغه غږ د /وي/ او /لري/ په  اخرکښې ثبت شوی دی چې زموږ د بره ذکر شوي وضاحت د څلورمې پوړۍ مطابق به اخر کښې /نه/ ورپورې تړل کېږي:

**عشـــــق پـــــه عقـــــل ښايســــــته دی**
**عقـــــل بـــــې عشـــــقه نـــــۀ وينـــــه**
**بـــــاطن واړه پـــــه ظـــــاهر کښـــــې**
**هـــــر ظـــــاهر بـــــاطن لرينـــــه**[vii]

د روښانيانو د دوو نماينده شاعرانو د کلام نه په دغه حواله د يو څو نمونې راوړلو نه پس د ټپه ييز اهنګ دغه کړۀ وړۀ د رحمان بابا په کلام کښې په تفصيل سره د کتلو هڅه کوو او د دې غږ سره تړلي هغه ټول مظهرونه چې موږ يې بره يادونه کړې ده سره د رحمان بابا د کلامه دلته پېښ کوو:

اول: د ټپې دويمه مصرعه به په هرحال کښې په /ه/ ختمېږي او دا آفاقي خبره ده:

ترڅو چې د بابا په کلام کښې مطلق د دې اواز چې زۀ ورته ټپه ييز غږ وايم خبره ده نو د دوي په ديوان کښې د شپېتو نه زيات غزل هم په دغه غږ سر ته رسېږي او که چيرته د "الف" د پټۍ غزل هم وروشمارکړو نو دا تعداد د سلو نه اوړي[5]
–

دويم: که د ټپې اخرنی لفظ تذکيري اسمي بڼه لري او د جمع حالت يې د /-ونه/ مانيزه واحده (morpheme) اخلي لکه لاس ـــــ لاسونه؛ ګرېوان ـــ ګرېوانونه او داسې نور نو د ټپې د فني جوړښت اولنی شرط پخپله پوره کېږي:

د رحمان بابا په کلام کښې داسې غزل شته چې دا شرط پوره کوي دلته د مزيد توضيح دپاره صرف په يوه مقطع بسنه کوو:

**ژونـــــدي کانـــــدي د دنيـــــا کاروبارونـــــه**
**په مړو پرېواتــۀ[6] د خـاورو انبارونــه**[viii]

درېيم: که د ټپې اخرنی لفظ تانيثي اسمي بڼه لري او په /-نه/ ختمېږي لکه مينه، وينه او داسې نور نو د ټپې د فني جوړښت اولنی شرط دلته هم پخپله پوره کېږي

د بابا په ديوان کښې د دې شرط پوره کوونکی دا شعر وځيروۍ:

**زۀ بــه نــوره نــۀ کــړم پــه خوبــانو بانــدې مينــه**
**مينــه د خوبــانو وچــوي د صــورت وينــه**[ix]

---

4 امکان شته چې دا غږ د پټې خزانې د دور په شاعرانو کښې هم وي خو خبره اوږدېږي ځکه نو دلته ورنه صرفِ نظر کوو –
5 په /ه/ او /ا/ کښې د اوږدوالي توپير دی خو هرکله چې دواړه د فونيمک نوعيت حامل دي او مانا کښې فرق راولي نو ځکه يې نۀ سره ګډوو-
6 دا "پرېواتۀ" کښې د ډېر وګړي اتصالي ضمير /ۀ/ د شمال مشرق پښتو ده ګني په نورو معياري پښتو کښې دلته /-ل/ راځي، يا خو بابا پخپله د اولسي پېښورۍ پښتو نه استفاده کړې ده او يا مرتّبينو چې د دې ګړدود سره تعلق ساتي دا مورفيم بدل کړی دی –

ځلورم: که د ټپې اخرنی لفظ فعلي بنه لري او په بېواکه غږ /-م/ اختتام مومي چې د وړومبني وګړي (یو) کمزوري اتصالي ضمير نخښه ده نو دا ټکی په اخر کښې يواځې /-ه/ اخلي لکه د خورم نه ـــ خورمه؛ ژاړم نه ـــ ژاړمه او داسې نور:

د ټپه ییز غږ د دې اصول لاندې داسې ټپې په عمومي توګه د واحد متکلم د صيغې لۀ طرفه وي او دېرې ټپې داسې دي چې د عاشق لۀ لوریه پکښې د زړۀ کرب بيان شوی دی د شاعرۍ په نورو صنفونو کښې په عمومي توګه او په غزل کښې په خصوصي توګه د واحد متکلم صيغې سره دا درد او سوز منسوب شوی دی، وګورئ د بابا لاندیني شعرونه د ثبوت د پاره چې پکښې مددګار فعل /کوم/ او اصلي فعلونه /ګرځوم/ او /غږوم/ د ټپه ییز غږ /ه/ په ګانه پسولل شوي دي:

ځــو بــه صــبر پــه جفــا دیــار کومــه
ځــو بــه مــوم د نمــر و مــخ تــه ګرځومــه
دا هــم ژونــد دی چــې یــار نــۀ ویــنم پــه سـترګو
زۀ رحمــان پــه جهــان ســترګې غږومــهx

پنځم: که د ټپې اخرنی لفظ فعلي بنه لري او په خپلواکه غږ /-ي/ اختتام مومي نو د پښتو د غږيز نظام د اصولو ترمخه به د یاد شوي غږ نه پسه اول تلفظي معاون (gliding) /ن/ راځي او بیا /ه/ لکه راځي + ن + ه = راځينه:

د ټپه ییز غږ دا شرط ډېر مهم په دې دی چې د دې جواز او استناد سوا د ټپو او د ټپو په اساس ولاړو سندرو نه علاوه بل چیرته نشته تر دې چې په اوسمهاله پښتو ژبپوهنه (ګرډودونه) کښې يې هم نظير نشي پیدا کولای د دې نه اندازه کېږي چې اوسنی پښتو دا ځانګړتیا بايللي ده البته د رحمان بابا تر وخته پورې څه نه څه وله دلته يې د بابا د ديوان نه دا يواځنی مثال راوړو:

راشـــه نجـــومي زمـــا دپـــاره فـــال وګـــوره
تللــی یــار بــه کلــه لــۀ ســفره رایيشــينهxi

نتيجه

د دې ټول بحث نه موږ په دې نتيجه رسو چې د بابا د شعر خوږۀ د نورو شاعرانو په مقابله کښې ځکه زيات دي چې دوي تر خپله وسه کوښښ کړی دی چې خپل شعري ژبه او اسلوب په عوامي او اولسي لهجه او روزمره او محاوره ولړي په دغه لړ کښې دوي د پښتو د اولسي شاعرۍ يو صنف ټپې نه هم په خلاص مټ اخستنه کړې ده چې يو طرف ته يې د دوي د شعر ښکلا زياته کړې ده او په بل لوري دا هم جوتيږي چې زموږ ټپه څومره زړه او وختنۍ ده ـ

---

## References:


i Kamel Momand, Dost Muhammad khan, ***Rahman Baba***, (Edited by: Muhammad Zubair Hasrat), Danish Khparanduya Tolana, Peshawar, 2006, p: 134-135
ii Khattak, Rajwali Shah, ***da Rahman pa she'r***, Pashto Academy Peshawar University, Lahore, 2003, ISBN: 969-418-018, P: 94
iii Abdul Rahman, ***da Rahman Baba Kuliyat***, (edited by: Dost Muhammad Kamil Momand & Qalander Momand), da Chapzai Printers, Peshawar, 1984, p: 323
iv Benawa (c.f.), Muhammad Nawaz Tair, ***Tapa au Zhwand***, Pashto Academy University of Peshawar, Peshawar, 1980, p: 27
v Khattak, Dr. Rajwali Shah, ***da Pashto Adabi Tahrikuna***, Pashto Academy University of Peshawar, Peshawar, 1989, p:22
vi Arzani, Mulla, ***da Arzani Kheshki Kuliyat***, (edited by: Dr. Parwez Mahjoor Kheshki), Pashto Academy University of Peshawar, Peshawar, 2005, pp: 620-22
vii Ansari, Mirza Khan, ***Dewan e Mirza Khan Ansari***, (edited by: Hamesh Khalil), Dar ut Tasnif, Peshawar, 1959, p: 166
viii Abdul Rahman, ***da Rahman Baba Kuliyat***, p:203
ix Ibid, p: 206
x Ibid, p: 197
xi Ibid, p: 206